# لیک لوست او ګرامر

## د اورمړي ژبې

څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

د اورمړي ژبې لیک، لوست او ګرامر

څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

۱۳۹۹هـ.ل



# Writing, Reading & Grammar of Ormuṛi Language

Professor Khalilullah Ormur (Ph.D)

ISBN 978-9936-661-07-3

2020

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د لرغونو ژبو انستیتوت

# د اورمړي ژبې لیک، لوست او گرامر

څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

۱۳۹۹ هـ . ش

**د کتاب ځانګړنې**

**د کتاب نوم:** د اورمړي ژبې لیک، لوست او ګرامر

**لیکوال:** څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

**اډېټ او اهتمام:** څېړنوال ډاکټر رفیع الله نیازی

**ډیزاین او کمپوز:** څېړندویه سونیا صمیم هوتک

**خپروونکی:** د علومو اکادمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د لرغونو ژبو انستیتوت

**د چاپ کال:** ۱۳۹۹ هـ. ش

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل افغانستان

**تیراژ:** ۵۰۰ جلده

**ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳۶-٦٦۱-۰۷-۳

**د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# مخکینۍ خبرې

زموږ ګران هېواد افغانستان که له یوې خوا د تېر تاریخ په اوږدو کې د بېلابېلو تمدنونو د روزنې زانګو ده، له بلې خوا د بېلابېلو قومونو او ملتونو د استوګنې ځای هم دی چې هر یو یې ځان ته جلا جلا ژبه لري. د دې خاورې اوسېدونکي د مذهبي، ژبني، رسومي او دودیزو اختلافونو له لرلو سره سره بیا هم د خپل ویاړلي تاریخ په اوږدو کې د دې لرغونې ځمکې په سیاسي جغرافیې کې دننه د ورورولۍ ژوند کړی او پر یو بل باندې له نژادي، مذهبي، ژبني او نور غوره والي پرته یې د اسلام د مبین دین د پاکو بنسټونو په پیروۍ سره مساوي حقوق په پام کې نیولي او د ژوند په چارو کې د ستونزو په پېښېدو کې یې د اتفاق او اتحاد د شریکولو هڅه کړې ده.

په وروستیو کلونو کې په فرهنګي مسایلو او په هېواد کې د ټولو ساکنو ملیتونو د فرهنګ د زرغونولو له پاره پر کار، د وخت د حاکمانو له خوا ټینګار شوی، آن تر دې چې د هغوی په پالیسیو کې هم ترې یادونه شوې او د ټولو ملیتونو د فرهنګ وده یې د دولت او حکومت له بنسټیزو دندو څخه اعلان کړه. د همدې اصل پر بنسټ په وروستیو شلو کلونو کې عمده فرهنګي کارونه پیل شول چې کولای شو له هغو څخه د ځینو ژبو له پاره د الفبا تثبیتول او د ملیتونو فرهنګ ته اړوند د موادو را ټولول او د ملیتونو په ژبه د آثارو خپرول یاد کړو. دا کارونه باید یوې انساني او عالي موخې ته د رسېدو له پاره لومړنی ګام وبولو. اورمړي هم په افغانستان کې د ساکنو خلکو د ژبو له ډلې څخه ده، په یقین سره ویلای شو چې تر اوسه ډېر لږ خلک له اورمړ ملیت او د هغوی له ژبې سره آشنا دي. لومړی شخص چې د دې ژبې په اړه یې کار کړی او د بهرنیو پوهانو په آثارو کې یې نوم راغلی، غلام محمد اورمړ دی چې د خپلې سیمې په یو روزنیز مرکز کې د اورمړي ژبې استاد و، نوموړي د اورمړي ژبې ګرامر د هغه مهال د دود(عربي قواعدو) مېتود په پیروۍ ترتیب کړی و چې خطي نسخه یې د پېښور پوهنتون په ملي کتابتون National library کې خوندي ده. له هغه وخت را وروسته تر اوسه پورې د اورمړي ژبې او د اورمړ ملیت په اړه د ځینو پوهانو او څېړونکو له خوا څه علمي لیکنې شوي او کولای شو همدا څېړنه هم د هغوی د کار دوام وبولو. ما د دې اثر په لیکلو کې د ژبپوهنې تاریخي پرتلیز مېتود چې اوس په نړۍ کې د ژبپوهنې د تاریخي پرتلیزو مسایلو په څېړنه کې منل شوی مسلک او یوازینۍ لار ده، کارولی دی. له نورو آریایي

ژبو سره د اورمړي ژبې پرتليزې ريښه پېژندنې، له يوې خوا څخه د آريايي ژبـو د کـورنۍ په منځ کې د دې ژبې دريځ تثبيت کړی او له بلـې خـوا د دې کـار پـه تـرسراوي سره د تاريخ په اوږدو کې چې اورمړي ژبې کوم د تکامل لارې وهلي او کوم تحولات چې يې په دې لار کې منلې دي، روښانوي.

د دې څېړنې تاريخي برخه زما د دکتورا (Ph-D) د ډيزرټېشن يوه برخه ده چې د مسکو د علومو اکاډمۍ د تکړه پوهانو په لارښوونه مې په روسيه کې ليکلې و او پـه تشرـيحي برخه کې يې د ساحوي کار له هغو لومړنيو راټول شويو مـوادو څخـه هـم گټـه اخيسـتل شوې ده چې د اورمړي ژبې د ايتمالوژۍ قاموس له پاره د لومړنيو موادو په توگه را ټـول شوي وو.

اورمړي ژبه ليکدود نه لري. د لـومړي ځـل لـه پـاره د اورمـړي ژبـې د ليکـدود اصـول او قواعد د هېواد د دوو رسـمي ژبو(پښـتو او دري) د تـاريخي سـندونو او متونـو پـر بنسـټ ترتيب او تنظيم شوي دي. څنگـه چـې د ليکـدود اصـول او قـوانين د ژبـې لـه گرامـري اصولو او قاعدو سره تړاو لري، هغه ټول قوانين په پام کې نيول شوي دي.

د اورمړي ژبې پرتليزه ريښه پېژندنه يوازې د اورمړي ژبې په برخه کې نوی او تازه کار نـه دی، بلکـې کـولای شـو پـه دې برخـه کـې دا پـه خپـل هېـواد کـې لـومړی کـار وبولـو. همدارنگه لکه څنگه چې ويل شوي دي، تر اوسه د هېواد د ژبپوهانو لـه خـوا دا کـار نـه دی شوی، حتی د افغانستان رسمي ژبې (پښـتو او دري) هـم تـر اوسـه تـاريخي پرتليـز گرامر نه لري.

د دې اثر د ليکلو له پـاره چـې مـې کومـه لاره خپلـه کـړې، هغـه اوس د نـړۍ پـه ډېـرو پرمختللو هېوادونو کې دود ده او هيله من يم لکه څنگه چې ما دا ميتود خپل کړی، پـه راتلونکي کې يې زموږ د هېواد نور ژبپوهان هم خپل کړي او د دې لارې په خپلولـو سره په آسانۍ وکولای شي، نه يوازې د پښتو او دري ژبو تاريخي گرامر، بلکې د نـورو آريـاني ژبو هم څرگند او تدوين کړي او د مقصد منزل ته ورسېږي.

په دې اثر کې د بېلا بېلو مقصـدونو لـه پـاره کـارول شـوې اشـارې او سـمبولونه توضـيح شوي او په پای کې د کتاب پېژندنې ځانگړتياوې هم ورسره مل ترتيب شوې دي.

د دې اثـر پـه ليکلـو کـې د خپلـو اسـتادانو پروفيسـور دکتـور آبـايف Абаев В. И.، پروفيسور دکتور ادلمان Эдеьман Д. И. او پروفيسور دکتور يفيموف Ефимов В.

A. له بې ساره پوهو او تجربو څخه چې ما د (پـي. اچ. ډي) پـه دوره کـې ور څخـه زده کړي دي، د یادونې وړ دي، مننـدوی یم.
د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا د څېړنپوه ډاکټر عبدالظاهر شکېب پـه مشرۍ، د هېواد د بېلابېلو قومونو د ملي وحدت د تحکـیم او خونـدي کولـو پـه موخـه د دې اثـر د لیکنې وړاندیز وشو او د علومو اکاډمۍ علمي معاون، څېړنوال ډاکټر رفیع الله نیـازي د پښتو او دري کتابونو پر چاپ ټینګار وکړ، اورمړیان ترې مننـدوی دي.
د یادونې وړ بولم چې پر هېواد باندې د حاکمو ناسمو شرایطو له امله چې څېړونکي لـه کومو ستونزو سره مخامخ دي او نـه شي کـولای خپلـې څېړنیـزې چـارې پـه سـمه توګـه ترسره کړي، له شک پرته چې له دغو څېړونکو څخه یو زه هم یم؛ نو پـه دې اثـر کـې بـه هم نیمګړتیاوې وي چې هیله لرم درانه لوستونکي به پر ما نیوکه نه کوي او عذر به مـې مني.
په پای کې له څېړندویې سونیا صمیم هوتک، احمد جاوید آفتاب او څېړنیار شریف الله دوست څخه چې د متن په کمپوز کولو او د ځینو برخو په ژباړې او د پـروف پـه سـمونې کې یې زیار ایستلی دی، د زړه له کومې منته کوم.

د هېواد د فرهنګ د لا غوړېدا په هیله
څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

# لیکلړ

**سرلیک** **مخگڼه**


سریزه ........................................................................................ ۱

**اورمړیان او د هغوی تاریخ**

د موضوع شالید................................................................................ ۷

اورمړیان او د هغوی تاریخي مخینه ........................................................ ۱۸

د اورمړ د تسمیې وجه ........................................................................ ۲۰

د اورمړیانو په اړه د مؤرخینو نظریې ..................................................... ۲۲

د اورمړي ژبې د فونیمونو لیکنه او د څېړنې د سرچینو ډول ......................... ۲۷

**د اورمړي ژبې تشریحي گرامر**

په آریاني ژبو کې د اورمړي ژبې دریځ......................................................... ۳۳

غږ پوهنه یا فونیم (Phoneme) ............................................................ ۳۵

گرافیم Grapheme ............................................................................ ۳۵

د فونیم او گرافیم تر منځ توپیر ............................................................... ۳۵

املا څه شی ده؟ ................................................................................. ۳۶

د آریاني ژبو له پاره د عربي او فونیمیکي الفبا جدول ...................................... ۳۷

**الف: په پښتو، اورمړي او دري ژبو کې حرکتونه Diacritic marks** ................ ۴۶

۱ـ لنډ واول زور یا فتحه(-َ = a)............................................................ ۴۷

۲. لنډ واول زېر یا کسره (-ِ= î) ............................................................ ۵۰

۳- لنډ واول پېښ یا ضمه /-ُ = û/.............................................................. ۵۱

**ب: په پښتو، اورمړي او دري ژبو کې ممدوده الف (آ)** ................................. ۵۲

**ج: په پښتو، اورمړي او دري ژبو کې (واو)** ........................................ ٥٤
۱. شبه واول واو (و= w) ........................................ ٥٤
۲. معروف واو (و=u) ........................................ ٥٥
۳. اوږد واو یا مجهول واو [و= o] ........................................ ٥٦
۴. معدوله واو[$x^w$] ........................................ ٥٧
**د: په پښتو، اورمړي او دري ژبو کې (هـ = a) توری** ........................................ ٥٨
۱. هـ = ملفوظه(ه=h) ........................................ ٥٨
۲- څرګنده یا لویه (ه=a) ........................................ ٥٩
۳- مجهوله (پټه) یا کوچنۍ (ـه، ه= ə) ........................................ ٥٩
د ـ زورکی (ə) ........................................ ٥٩
**هـ : په پښتو، اورمړي او دري ژبو کې یاګانې** ........................................ ٦١
۱ـ بېواك(ی) [ی =y]⟵ نیمواک واول ........................................ ٦٢
۲ـ مجهوله(ې=e) ........................................ ٦٢
۳ـ څرګنده یا معروفه (ي=i) ........................................ ٦٢
۴ـ مُلَیّنه یا مُلَیّن (ی=ay) ........................................ ٦٤
**په پښتو، دري او اورمړي ژبو کې دوه برخیز توري** ........................................ ٦٥
الف) یو توری+ یوه نخښه او علامه لکه: ........................................ ٦٥
ب) د دوو تورو ترکیب لکه: ........................................ ٦٥
**هجا(Syllable)** ........................................ ٦٧
الف: په دري ژبه کې هجا ........................................ ٦٧
ب: په اورمړي ژبه کې هجا ........................................ ٦٨

ج: په پښتو ژبه کې هجا........................................ ۶۹
د پښتو، اورمړي او دري ژبو په کلمو کې د هجاوو شمېر .............................. ۷۱
د هجاوو د شمېر په لحاظ د کلمو وېش ........................................ ۷٤
**نیمواک، نیمه واول یا شبه واول (*Semi-vowel*)** ........................................ ۷۶
مرکب واولونه (Diphthong) ........................................ ۷۶
مرکب واوي واولونه........................................ ۷۹
مرکب یایي واولونه ........................................ ۸۰
په پښتو، اورمړي او دري ژبو کې مرکب یایي او واوي واولونه........................................ ۸۲
بېواک، ناخپلواک یا کانسونینټونه (Consonant) ........................................ ۸٤
د دري ژبې د کانسونینټونو جدول ........................................ ۸۸
د پښتو ژبې د کانسونینټونو جدول ........................................ ۸۹
د اورمړي ژبې د کانسونینټونو جدول........................................ ۹۱
**صرف (Morphology)**........................................ ۹۲
**نوم (Noun)**........................................ ۹۳
۱ ـ مفرد او جمع ........................................ ۹٤
د معنا له مخې د نوم ډولونه ........................................ ۹۸
۱ ـ عام او خاص نوم ........................................ ۹۸
۲ ـ  ذات او معنا نوم........................................ ۹۹
۳ ـ مهال او ځای نوم ........................................ ۹۹
۴. معرفه او نکره نوم ........................................ ۹۹
**ستاینوم (*Adjective*)** ........................................ ۱۰۹

**نومځري** (*pronouns*)........................................ ۱۱۳
۱ ـ شخصي نومځري ( *personal pronouns*)................................ ۱۱۳
۲. ګډ یا مشترک نومځري *(reflexive pronouns)* ...................... ۱۱۷
۳. اشاري نومځري (Demonstrative pronouns)........................ ۱۱۸
۴. آدرسات نومځري ( *contracted pronouns*)............................ ۱۱۹
۵. پوښت نومځري (*interrogative*) ........................................ ۱۲۱
**اعداد (Numbers)**........................................................ ۱۲٦
۱. اصلي اعداد (*Cardinal number*) ....................................... ۱۲٦
۲. ترتیبي یا توصیفي اعداد (*Ordinal numbers*)........................ ۱۲٦
۳. توزیعي اعداد (Distributive numbers)................................ ۱۲۷
**په اورمړي ژبه کې د فعل صرف Conjugation of Ormuri verbs** ............. ۱۳۱
۱ـ ریښه (*Root*) او ماده (*Stem*).............................................. ۱۳۱
**د اوسمهال ( مضارع) ماده**............................................. ۱۳۱
لومړۍ ډله فعلونه............................................................ ۱۳۱
دویمه ډله فعلونه............................................................ ۱۳۳
درېیمه ډله فعلونه........................................................... ۱۳۳
څلورمه ډله فعلونه.......................................................... ۱۳۳
**د فعل اشخاص**............................................................. ۱۳٤
د فعلونو شخصي لاحقې ..................................................... ۱۳٤
**فعلي مختاړي preverb** ...................................................... ۱۳۷
**د فعل د تصریف(اوړون) سیستم**.......................................... ۱٤۰

**د فعل وجه (*mood*)** ................................ ۱٤۱

**I. اخباري وجه (*Indicative*)** ................................ ۱٤۳

د اخباري وجې مضارع زمان (*present tense*) ................................ ۱٤۳

د لومړۍ ډلې فعلونه................................ ۱٤۳

د دويمې ډلې فعلونه ................................ ۱٤٤

د درېيمې ډلې فعلونه ................................ ۱٤٤

د څلورمې ډلې فعلونه ................................ ۱٤٥

په اخباري وجه کې د مضارع کارونه ................................ ۱٤٥

**تېرمهال (past)** ................................ ۱٤۷

۱ـ مطلق (ساده يا تام) تېرمهالImperfect, preterite................................ ۱٤۷

د مطلق تېرمهال د کارونې تر ټولو مهم موارد ................................ ۱٤۸

۲ـ نقلي تېرمهال (Perfect)................................ ۱٤۹

د نقلي تېرمهال د کارونې تر ټولو مهم موارد ................................ ۱٥۰

۳ـ استمراري تېرمهال (*Imperpect*) ................................ ۱٥۰

د اخباري وجې استمراري تېرمهال د کارونې تر ټولو مهم موارد................................ ۱٥۱

۴ـ بعيد يا لرې تېرمهال (*Pluperfect*) ................................ ۱٥۲

د لېرې تېرمهال د کارونې تر ټولو مهم موارد ................................ ۱٥۳

**التزامي وجه (Subjunctive Mood)**................................ ۱٥٤

۱ـ التزامي مضارع (aorist)................................ ۱٥٤

د التزامي مضارع د کارونې تر ټولو مهم موارد................................ ۱٥٥

۲ـ التزامي تېرمهال ................................ ۱٥٥

د التزامي ماضي د کارونې تر ټولو مهم موارد ........................ ۱۵۷
۳ـ التزامي استمراري تېرمهال ........................................ ۱۵۷
**امري وجه** (*Imperative*) ........................................ ۱۵۹
**تمنايي وجه** (*optative*) ........................................ ۱۶۰
**مجهول جهت** (**Passive Voice**) ........................................ ۱۶۱
**لازمي** (**intransitive**) **او متعدي** (**transitive**) **فعل** ........................ ۱۶۱
**معين فعل** ........................................ ۱۶۳
د نفي جوړونکي توکي Negation element ........................................ ۱۷۶
**قيد** (***Adverb***) ........................................ ۱۷۸
د قيد ډولونه ........................................ ۱۷۸
**عبارت** (**Phrase**) ........................................ ۱۸۲
**تړ وييکي** (***conjunctive***) ........................................ ۱۸۹
۱ـ د وصل تړ وييکي ........................................ ۱۸۹
۲ـ د بېلوالي يا فاصل تړ وييکي ........................................ ۱۹۰
۳ـ د استثنا تړ وييکي ........................................ ۱۹۰
۴ـ د تابع تړ وييکي ........................................ ۱۹۰
اضافه تړ وييکي ........................................ ۱۹۱
**۱ـ اوستربل** (***post position***) ........................................ ۱۹۲
د ki اوستربل او د هغې د کارونې مورد ........................................ ۱۹۲
د لوګر په لهجه کې di /کانيګرام lasta اوستربل ........................................ ۱۹۳
د لوګر ګډی gaḍi- / کانيګرام giraḍ-" اوستربل ........................................ ۱۹۴

لوگر tomnak- /کاښیگرام taskye- ........................................ ۱۹۵

اورمړی نېله nela-.................................................................. ۱۹۵

پارک pārak اوستربل .................................................. ۱۹۶

لوگر نې ne- /کاښیگرام nar- ........................................................ ۱۹۶

لوگر ژې že- / کاښیگرام zar-........................................................ ۱۹۶

**۱. د اوستربل (*post position*) لنډیز** ........................................ ۱۹۸

**۲- سربل (*preposition*)** ............................................................ ۱۹۸

د ta سربل د ملکیت مفهوم ورکوي.................................................. ۱۹۸

اورمړي pa = (پښتو pə، دري ba ) په لاندې برخو کې کارېږي: ............ ۱۹۹

د سربل (*preposition*) لنډیز.......................................................... ۱۹۹

**ادات (particle)** .................................................................... ۲۰۰


## د اورمړي ژبې تاریخي گرامر

## فونیټیک


**د واولونو د تحول او تکامل تاریخي بهیر** ...................................... ۲۱۳

**د واولونو تاریخي پرتلنه** ....................................................... ۲۳۰

د لرغونې آریاني د گروپي او خوشه یي غږونو بدلونونه او تکامل ............ ۲۳۲

**کانسونینټونه (Consonants)**........................................................ ۲۳٤

د پښتو ژبې د کانسونینټونو جدول📖 ............................................... ۲۳۸

د دري ژبې د کانسونینټونو جدول...................................................... ۲۳۹

د اورمړي ژبې د کانسونینټونو جدول .................................................. ۲٤۰

**د کانسونینټونو تاریخي لړی** ........................................................ ۲٤۱

**د لرغونې آريايي او اورمړي پرتليز لنډيز** ........................ ۲۹۰
**په اورمړي ژبه کې د لرغونو گروپي کانسونينټونو تکامل** ............ ۲۹۵
**صرف** ............................................................ ۲۹۶
**نوم (Noun)** ..................................................... ۲۹۷
د اورمړي ژبې د نومونو او ستاينومونو تاريخي بهير ..................... ۲۹۷
په لرغونې آرياني ژبو کې د نوم مقولې په لاندې ډول دي: ................ ۲۹۷
په اورمړي ژبه کې د نوم مقولې په لاندې ډول دي ........................ ۲۹۷
د نومونو تاريخي بهير ................................................ ۲۹۹
**د اعدادو (*Numbers*) تاريخي بهير** .................................. ۳۰۴
په لرغونې آرياني ژبو کې اعداد (شمېر) ................................ ۳۰۴
ترتيبي عددونه ..................................................... ۳۰۴
کسري عددونه ....................................................... ۳۰۴
توزيعي عددونه ..................................................... ۳۰۴
په اورمړي ژبه کې اعداد يا شمېر ...................................... ۳۰۵
اصلي اعداد ......................................................... ۳۰۵
ترتيبي (توصيفي) عدد ................................................ ۳۰۵
توزيعی اعداد ....................................................... ۳۰۷
**په اورمړي ژبه کې د اصلي اعدادو تکامل** ............................ ۳۰۷
**نومځري** ......................................................... ۳۱۱
د لرغونو آرياني ژبو نومځري ......................................... ۳۱۱
شخصي نومځري ....................................................... ۳۱۱

اشاروي نومځري ........................................ ۳۱۱
انعکاسي ملکي (ګډ، مشترک) نومځري ........................... ۳۱۱
موصولي ................................................... ۳۱۲
پوښت نومځري.............................................. ۳۱۲
مبهم یا ناڅرګند نومځري ..................................... ۳۱۲
په اورمړي ژبه کې نومځري.................................... ۳۱۲
۱ ـ شخصي نومځري ( *personal pronouns*)......................... ۳۱۲
د شخصي نومځرو تاریخي بهیر.................................. ۳۱۲
۲. ګډ یا مشترک نومځري ( *reflexive pronoun*)....................... ۳۱٤
۳. آدرسات نومځري ( *contracted pronouns* ) ........................ ۳۱٤
۴. پوښت نومځري (*interrogative*) ................................. ۳۱۵
**په اورمړي ژبه کې د فعل صرف Conjugation of Ormuri verbs** ............. ۳۱۶
په لرغونو ژبو کې فعل دغه لاندې مقولې لري .......................... ۳۱۶
رېښه (*Root*) او ماده (*Stem*) ......................................... ۳۱۷
د اوسمهال مادې ............................................. ۳۱۸
لومړۍ ډله فعلونه............................................ ۳۱۸
دویمه ډله فعلونه............................................ ۳۱۹
درېیمه ډله فعلونه............................................ ۳۱۹
څلورمه ډله فعلونه............................................ ۳۲۰
د لومړۍ ډلې فعلونو تاریخي بهیر.................................. ۳۲۰
د دویمې ډلې فعلونو تاریخي بهیر .................................. ۳۲۱

د درېيمې ډلې فعلونو تاريخي بهير ........................ ۳۲۱
د څلورمې ډلې فعلونو تاريخي بهير ........................ ۳۲۲
د تېر مهال ماده ........................ ۳۲۳
**د فعل اشخاص** ........................ ۳۳۵
د افعالو شخصي لاحقې ........................ ۳۳۵
**فعلي مختاړي preverbs** ........................ ۳۳۷
**د فعل د تصريف سيستم** ........................ ۳۴۰
**د فعل وجه (*mood*)** ........................ ۳۴۱
I. اخباري وجه (*Indicative*) ........................ ۳۴۳
د اخباري وجې مضارع زمان (*present tense*) ........................ ۳۴۳
د لومړۍ ډلې فعلونه ........................ ۳۴۳
د دويمې ډلې فعلونه ........................ ۳۴۴
د درېيمې ډلې فعلونه ........................ ۳۴۴
د څلورمې ډلې فعلونه ........................ ۳۴۵
په اخباري وجه کې د مضارع کارونه ........................ ۳۴۵
تېرمهال (past) ........................ ۳۴۶
۱ـ مطلقه (ساده يا تام) تېرمهالImperfect, preterite ........................ ۳۴۷
د مطلقې تېرمهال د کارونې تر ټولو مهم موارد ........................ ۳۴۸
۲ـ نقلي تېرمهال (Perfect) ........................ ۳۴۹
د نقلي تېرمهال د کارونې تر ټولو مهم موارد ........................ ۳۴۹
۳ـ استمراري تېرمهال (*Imperpect*) ........................ ۳۵۰

د اخباري وجې استمراري تېرمهال د کارونې تر ټولو مهم موارد............... ۳۵۱
۴ـ بعید یا لرې تېرمهال (*Pluperfect*) ........................................ ۳۵۲
د بعیدې تېرمهال د کارونې تر ټولو مهم موارد .................................. ۳۵۳
**التزامي وجه (Subjunctive Mood)** .......................................... ۳٥٤
۱ـ التزامي مضارع (aorist)........................................................ ۳٥٤
د التزامي مضارع د کارونې تر ټولو مهم موارد .................................. ۳۵۵
د التزامي تېرمهال د کارونې تر ټولو مهم موارد ................................. ۳۵۷
۳ـ التزامي استمراري تېرمهال ...................................................... ۳۵۷
**امري وجه (Imperative mood)** ............................................... ۳۵۹
**تمنايي وجه (*optative*)** ....................................................... ۳٦۰
**مجهول جهت (Passive Voice)** ................................................ ۳٦۱
**لازمي (intransitive) او متعدي (transitive) فعل**............................ ۳٦۲
**معین فعل** ..................................................................... ۳٦۳
**قید (*adverb*)**.................................................................. ۳٦٤
مشترک قید ....................................................................... ۳٦۵
د قید ډولونه (د مفهوم له مخې) ................................................. ۳٦۵
۱ـ د مهال قید .................................................................... ۳٦۵
۲ـ د ځای قید...................................................................... ۳٦٦
۳ـ د مقدار او کمیت قید .......................................................... ۳٦٦
۴ـ پوښتنيز قید.................................................................... ۳٦٦
۵ـ د علت قید ..................................................................... ۳٦۷

**تړ وییکي** (*conjunctive*) ........................................................................ ۳۶۸

۱ـ د وصل تړ وییکي ........................................................................ ۳۶۸

۲ـ د بېلوالي یا فاصل تړ وییکي ........................................................... ۳۶۹

۳ـ د استثنا تړ وییکي......................................................................... ۳۶۹

۴ـ د تابع تړ وییکي .......................................................................... ۳۶۹

اضافه تړ وییکي ........................................................................... ۳۷۰

**۱ـ اوستربل** (*post position*)........................................................................ ۳۷۱

د ki اوستربل او د هغې د کارونې مورد ............................................. ۳۷۱

د لوګر ګډی gaḍi- / کانیګرام giraḍ-" اوستربل ........................... ۳۷۳

لوګر tomnak- /کاڼیګرام taskye- ...................................... ۳۷۳

اورمړي γondak= پښتو γunde..................................................... ۳۷۴

اورمړی نېله nela-.............................................................. ۳۷۴

پارک pārak اوستربل ............................................................. ۳۷۴

لوګر نې ne- /کاڼیګرام nar- ................................................ ۳۷۵

لوګر ژې že- / کاڼیګرام zar-................................................ ۳۷۵

د اوستربل (post position) لنډيز.............................................. ۳۷۷

**۲ـ سربل (preposition)** ............................................................... ۳۷۸

د سربل (preposition) لنډيز...................................................... ۳۷۸

# سریزه

د تاریخ په اړه د خبرو کولو پر مهال، څه چې زموږ ذهن ته راځي، هغه د پاچاهۍ لړۍ، کورني جنګونه او پاڅونونه، د پاڅونونو د مشرانو مېړانه، وحشتونه او داسې نور مسایل دي چې په تاریخي مغرضو کتابونو کې د اغراق په کچه راغلي او تر موږ را رسېدلي دي. هر څومره چې په تاریخ کې معاصري زمانې ته نږدې شو، هومره به کره او پرېمانه تاریخي سرچینې په لاس راشي. نن زموږ له پاره د دویمې نړیوالې جګړې پیل او پای، د هندوستان د خپلواکۍ اعلان، د اروپایي ټولنې منځ ته راتګ، زموږ د هېواد ځلوېښت کلنه کورنۍ جګړه او د پردیو تېري چې مو تېر کړل او همداسې په تاریخ کې ثبت شوي نور ډېر ټکي څرګند دي او د ټولې نړۍ په سرچینو کې یاد شوي دي. که چېرته په تاریخ کې بېرته شا ته وګرځو؛ نو د پیشدادیانو، کیانیانو، د اسپه کورنۍ، د مصر فراعنو او په چین کې د شانګ د لړۍ حکومتونو ته رسېږو، خو بیا هم کولای شو د قرینو او شواهدو له مخې، په تقریبي بڼه د ډېرو پېښو مهال په منطقي توګه وټاکو او یا لږ تر لږه څرګنده کړو چې کومه پېښه له کومې پېښې وروسته پېښه شوې ده.

خو د ژبې د تاریخ په لټون کې بیا خبره ښکاره بل ډول ده. موږ نه شو ویلای چې ژبه څه وخت پیدا شوې، لومړنۍ ژبه کومه وه او په دقیقه توګه د ژبنې بدلون لاملونه کوم دي. موږ ته دا ښکاره ده چې انسان ژبې ته اړ دی او د ژبې په اړه په تخمین او احتمال سره ویلای شو چې د انسان له ټولنیز کېدلو سره به هممهاله را پیدا شوې وي؛ نو پر دې بنسټ ویلای شو چې د ژبې لرغونتوب باید له یو میلیون کلونو څخه ډېر وای، په داسې حال کې، هغه څه چې زموږ په لاس کې د دې ناپېژندل شوې پدیدې په اړه دي، هغه لیکني مدرکونه دي چې له لسو زرو کلونو څخه ډېره لرغونتیا نه لري. په دې توګه موږ په تاریخي لحاظ د ژبې مطالعه له هغې زمانې څخه را پیلولای شو چې ژبې نننۍ بڼه خپله کړې ده. د لیک د کارونې لرغونتوب هم موږ ته په کره توګه روښان نه دی. موږ یوازې د تر ټولو لرغونو شته وو سندونو له مخې ویلای شو چې لیک د دې اسنادو د ثبت پر مهال

موجود و، خو دا چې له هغه وخت څخه څومره مخکې د لیک کارونه دود وه، مـوږ ته معلومه نه ده.

انسان د تاریخ په اوږدو کې تل د دې ناپېژندل شـوې مخینـې پـه لټـه کـې و. پـه تـاریخي کتـابونو کـې لولـو چـې د مصر۔ فرعـون پسـامتیخوس امـر وکـړ چـې دوه ماشومان له خپل مور او پلار څخه جلا کړئ او له ټولنې یې لـرې وروزئ چـې لـه دوی یې معلومه کړو چې د آدم د اولاد لومړنۍ ژبه کومه وه. د دې کـار پایلـه مـوږ ته روښانه نه ده، خو په څوارلسمه پېـړۍ کـې د سـکاټلنډ پاچـا څلـورم جیمـز لـه پسامتیخوس څخه په تقلید سره د هغه تجربه تکرار کړه او پایله یې دا شوه چې د هغه په تشخیص سره چې کله هغو دوو ماشومانو پـه خـبرو پیـل وکـړ پـه فصـیحه عبري یې خبرې کولې. زموږ پـه وړانـدې داسـې ډېـر مدرکونـه شـته چـې لـه بـې باورۍ سره سره هم ارزښتناک دي او هغه دا چې انسان له هماغـه مهـال څخـه د دې ناپېژندل شوې د کشف په لټه کې و او دی.

د شـلمې پېـړۍ پـه پیـل کـې فردینـان دوسوسـور F. De Saussure لـه خپـل همـمهالي ټولنپوه امیل دورکهایم E. Durkheim څخه په تـأثر د ژبـې د مطـالعې له پاره دوه ډوله توصیف؛ تشر۔یحي Synchronic او تـاریخي Diachronic نظریـو ته قایل شو او ټینګار یې وکړ چې دا دوه نظریې باید سره ګډې نه شي.

تاریخي نظریه د ژبې بدلون او تحول تر څېړنې لاندې نیسي۔ او تشر۔یحي نظریـه ژبه له تاریخي تحول او پخواني بدلون پرته، د اوسني موقعیت له مخې په پام کې نیسي او توصـیفوي یـې. د سوسـور پـه بـاور تـاریخي ملاحظـې نـه بایـد د ژبـې د تشریحي توصیف په برخه کې وشي.

ډېر ژبپوهان چې د فردینان دوسوسور په پېروۍ، د ژبې دې دوه ډوله توصیف تـه په مطلق بېلوالي باندې قایل دي، تشریحي نظریې ته په لوړ نظر ګـوري. پـه دې برخه کې له دې ژبپوهـانو؛ بنوینیسـت E. Benvenist، یاکوبسـن R. Jakobson، مارتینه A. Martinet، او کوریلوویچ J. Kurylowicz سره مخامخ کېږو چې د دوو نظریو تشریحي او تاریخي د ترتیـب لـه پـاره چـې پـه ظـاهره کـې لـه یـو بـل سره

مخالف ښکاري، لاس په کار شوي دي.

موږ هم د هغوی په څېر هڅه کوو چې په دې څېړنه کې د ژبپوهنې له نویو وسیلو څخه کار واخلو.

د دې پروژې طرحه «له آریایي ژبو سره د اورمړي ژبې د ریښې اړیکه» په نامه نه شو کولای د ژبپوهانو له پاره نوي څه ولري. په دې اړه سترو استادانو لکه مارگینستیرین G. Margenstirene، گریرسن G. A. Grirson، شارل کیفر Chr. keiffer، یفیموف Efimov او نورو ډېر قلم چلولی او زما کار یوازې له هغو کلو او باندېو څخه چې اورمړ پکې ژوند کوي، د یادې ژبې د لومړنیو موادو له راټولولو پرته نور څه نه دی. په دې اړه د ترسره شوي کار او ما خپله د یو ژبپوه او اورمړي ژبې د ویونکي په توگه چې مورنۍ ژبه مې ده، په پام کې نیولو سره، دا اثر لیکلای دی. په دې څېړنه کې د ژبو تقریبي ټاټوبي د هغو د لیکني سندونو له مخې په گوته شوي. باید اعتراف وکړو چې د ژبې د ماهیت له مخې دغه سندونه بشپړ کره نه دي.

ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده، په ټولنه کې ساه اخلي او له ټولنې سره حرکت کوي، له همدې امله ژبني سرحدي لیکې ټاکلې نه وي او دا مسایل د ډېرو تقریبي سندونو په ښودنې سره څرگندېږي.